پوهنمل حاجي محمد نوزادي ٢٠١٨/٠٣/٠٦

# په پښتو ژبې کې د لیکدود او ګړدود ستونزې

## ( دریمه برخه )

د روان ۲۰۱۸ کال د فیبرورۍ په ۱۷ نېټه د افغانستان ملي تحریک ګوند په نوښت د یو شمیر فرهنګپالو افغانانو لخوا د ډنمارک هیواد په Sønderborg ښار کې د مورنۍ ژبې د نړیوالي ورځې د درنښت او لمانځلو په موخه یو سیمینار په پام کې نیول سوی وو . سیمینار که څه هم د معمول سره سم تر ټاکلي وخت ډیر وروسته پیل سو ، باید ووایم چي ښه پر مخ ولاړ او د ځینو وینالو په خبرو کې و ډیرو مهمو او اړینو ته ټکیو ته پام اړول سوی وو . په سیمینار کې زما د وینا متن دادی پدې توګه تر مینه والو پوري رسوم :

ځیني فارسي ، عربي ، اردو او یا نور لغاتونه چي په پښتو ژبه کې ډیر ور ننوتي او د چا خبره خیښي یې ور سره کړې او وینه یې ور سره شریکه کړیده لکه « کتاب یا قلم » ، کیدلای شي پخپل حال پاته شي . د ځینو لغاتو ښه کیدلای شی د خپل تلفظ پر بنسټ پښتو لیکدود ته واړول شی او د ژبی ملکیت ته وسپارل شي لکه د « **یعني** » او « **معلومات** » عربي لغاتونه چي اوس یې د ( ع ) په حذف سره د « **یاني** » او « **مالومات** » په ښه لیکو . همدارنګه پکار ده د دا ډول عربي اسمونو مفرد او جمع د پښتو د ګرامري دود له مخي و ټاکو . د بیلګي په توګه د « **حق یا متن** » جمع د « **حقوق یا متون** » پر ځای چی عربي حالت یې دی ، د « **حقونه یا متنونه** » په ډول و لیکو . ددغي لاري کیدلای شي د معیارولو چاري نسبتا ساده ، اسانه او ستونزې یې کمي کړو .

زه پدې باندي ښه پوهیږم چي د نیولوجیزم پر بنسټ د ( نوو لغاتونو ) په را منځته کولو د افغاني ژبپوهانو تر منځ د بشپړي همږغی تر لاسه کیدل ساده خبره نده ، و ډیر کار او زغم ته اړتیا لري . پر همدې خبره باندي را پورته شوي نانډرۍ له بده مرغه کله ناکله د رسنیو په کچه تر قلمي او آن لفظي شخړو پوري هم رسیدلي دي . دا کار بیا زما غوندي بیوسه کسانو د پاره د ډیرو ناهیلیو لامل ګرځیدلی دی . ایا څه مشکل شته که یو کندهاری ژبپوه د ( **سیب د درختي د سايې** ) څخه را پاڅی او د یوه مشرقي وال ژبپوه سره ( **د مڼې د وني د سیورې** ) لاندي کښیني او یا برخلاف هغه دا کار وکړي او پدې توګه دواړه په ګډه دغي ستونزي ته د حل لاره ولټوي او هغه اتفاق مات کړي چي ګویا پښتنو پر نفاق باندي کړیدی .

پدې کي شک نشته چي د ګړدود د ستونزي حل د یوه طبعي مشکل په توګه و پیړیو ته اړتیا لرې ، مګر لیکدود توحیدول بیا د ژبپوهانو د یوې اجماع د لاري تر سره کیدلای شی . که دا کار ژر و نه شي ، کیدلای شی پښتو د سختو ستونزو سر مخامخ کړي . د لیکدود په برخه کي د نني تکنالوژیکی اسانتیاوو منفي اغیز تر هر څه زیات په فیسبوکي پاڼو کي لیدلای شو . دا ژبه او لیکدود چی هلته کارول کیږي ، که پښتو یو ګام وړاندي بیایي ، په عوض کي یې دوه ګامه شاته ټیل وهي .

که څه هم دا ډول ستونزي لږي ندي مګر لږ تر لږه د لیکدود د معیاري کولو پروسې مخه باید و نه نیسي . دا به هم پر ځای کار نه وي چي د معیار کار د نیولوجیستي چارو تر بشپړیدو پوري و ځنډوو او د پښتو ویونکو تر سیال کیدو پوري انتظار و باسو . که پریږدو چي دغه اوسني حالت دوام وکړی ، په ډاګه وایم چي ژبپوهانو به پښتو ته د چوپړ پر ځای د پښتو او پښتنو سره جفا کړي وي او بس .

د لیکنی پای

ډنمارک ــ د Aarhus ښار

۲۰۱۸ / ۲ / ۱۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ